AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۳/۱۲/۱۷

# د یهودو عادلانه جګړې

## (لسمه برخه)



(اسراییل دولتي ترهګر، د ماشومان دښمنان او قاتلین)

## د اسراییلو خدای یهوه د اوسیدلو ځای (۱)

لکه وړاندې چې یادونه شوې ده نږدې د ټولو څېړونکو لیدلوری دا دی چې د اسراییلو خدای یهوه په لومړیو کې د توپان او اورغورځونکي غره خدای ؤ او د اوسیدلو ځای یې هماغه غرونه وو، د یهودو د دیني سرچینو پر بنسټ، د اسراییلو ځانګړی خدای یهوه په آسمان، د سینا (حوریب) په غره، د عبادت په خېمه او د اورشلیم په معبد کې اوسیدلی دی.

### د اسراییلو خدای یهوه په آسمان کې

د اسراییلو په بېلابېلو دیني کتابونو کې د یهوه د استوګنې له ځایونو یو هم آسمان ښودل شوی دی، د اسراییلو خدای یهوه «له یعقوب سره له خبرو وروسته **آسمان ته پورته شو.»** (د پیدایښت کتاب:۱۳/۳۵)
«... اې یهوه خدایه! **آسمانه چې ستا سپیڅلی ځای دی،** نظر وکړه او خپل قوم اسراییلو ته برکت ورکړه.» (د تثنیه کتاب:۱۵/۲۶)

داؤد په خپل کتاب (مزامیر) کې د اسراییلو خدای یهوه خو ځلې په پرلهپسې توګه یاد کړی دی چې یهوه په آسمان کې استوګن دی، ځمکې ته راګوري او له آسمانه ځمکې ته راکوزېږي چې له نومړي کتاب څخه اړوند مالومات په لنډه ډول راخلو، داؤد د یهوه د نورو حیرانوونکو کړنو تر څنګ وایي چې یهوه آسمان سوری کړ او د هغه مرستې ته راورسید:**«هغه آسمان سوری کړ** او راکوز شو، د پښو لاندې یې توري وریځې وې ... **یهوه له آسمانه خپل لاس را اوږد کړ** او زه یې له ډېرو ژورو اوبو پورته کړم.» (د مزامیرو کتاب: ۱۰/۱۸- ۱۲)

«اوس خدای [یهوه] په خپل سپیڅلي کور کې دی، **هغه په آسمان کې پر خپل تخت ناست دی.»** (مزامیر:۴/۱۱)
**«یهوه خدای له آسمانه انسانانو ته ګوري** تر څو یو پوه کس ومومي چې د خدای په لټون پسې وي.» (مزامیر:۲/۱۴)
**«یهوه خدای له آسمانه ګوري** او ټول انسانان ویني، هغه د خپل استوګنځای څخه د نړۍ ټول اوسیدونکي ویني.» (مزامیر:۱۳/۳۳-۱۴)

«یهوه خدای له خپل سپیڅلي مکان **چې په آسمان کې دی،** ځمکې ته وکتل.» (مزامیر:۱۹:۱۰۲)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

«ای د نړۍ ځمکو[هیوادونو]! د ازلي او ابدي خدای یهوه لپاره **چې په آسمانونو کې ناست دی** سندري ولولئ.» (مزامیر: ۲۳/۶۸)

«یهوه خدای خپل د حکمچلوني تحت **په آسمان کې ځایپهځای کړی دی** او له هغه ځایه پر ټولو موجوداتو حکمچلوي کوي.» (مزامیر:۱۹/۱۰۳)
**«یهوه زموږ خدای چې په آسمانونو کې ناست دی**، ساری نه لري، **له آسمانه ځمکې ته ګوري** چې بې وزله او فقیر کس له خاورو پورته او برۍ ورکړي او د خپل قوم د مشرانو په لیکه کې یې ودروي.» (مزامیر:۵/۱۱۳تر۸پورې)
«ولي خدای نه پیژندونکي [بېدینه] کسان له موږ پوښتنه کوي چې ستا خدای په کوم ځای کې دی؟ **زموږ خدای په آسمانونو کې دي.»** (مزامیر:۲/۱۱۵)

ارمیا نومی چې اسراییل یې نبي بولي د یهوه له قوله لیکي چې د هغه ځای په آسمان کې دی:«هغوی ته وړاندوینه وکړه، ووایه **چې یهوه خدای له خپل سپیڅلي ځای چې په آسمان کې دی** پر خپل قوم او د نړۍ پر ټولو اوسیدونکو غږ کوي.» (د ارمیا کتاب:۳۰/۲۵).

وروسته له هغې چې په اورشلیم کې د اسراییلو معبد د بابل پاچا (نبوکدنصر) لخوا وران او اسراییل بابل ته په اسارت ونیول شول، نو ارمیا نبي چې په (ژاړن نبي) هم مشهور ؤ، د اسراییلو پر ناوړه حالت ژاړي، هغه وایي چې تر هغې پورې به ژاړم چې یهوه خدای چې په آسمان کې دی راته پام وکړي:
«د خپل قوم د له منځه تللو له امله مې شپه او ورځ له سترګو اوښکې رواني دي، تر هغې پورې به ژاړم تر څو **له آسمانه یهوه خدای راته وګوري** او ځواب راکړي، کله چې زه وینم چې د اورشلیم پر جلکیو او ځوانانو څه حالت راغلی دی، نو زړه مې له غمه ډک شي.» (د ارمیا مراثي [ویرني] کتاب:۴۸/۳تر۵۱پورې)

سلیمان پاچا په یوه دعا کې وایي چې د یهوه خدای د اوسیدو ځان په آسمان دی، هغه غوښتنه کوي چې **« د خپل قوم دعا په آسمان کې واوره چې ستا د اوستوګنې ځای دی.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۳۹/۸)

که له یوې خوا یهوه په آسمان کې اوسیږي له بل لوري هغه خپل قوم اسراییلو او نورو ته له آسمانه سزاګانې او روزي ورکوي:«څوک چې له خدای یهوه سره مخالفت وکړي له منځه یې وړي، **هغه له آسمانه پر هغو تکه راغوځوي.»** (د سموییل لومړی کتاب:۱۰/۲)

«هغه مهال چې وږي شول **له آسمانه دي** دوی ته ډوډۍ ورکړه.» (د نحمیا کتاب:۱۵/۹)
**«یهوه د آسمان دروازې پرانستلې او پر دوی یې آسماني ډوډۍ اوروله** چې ویې خوري او ماړه شي، هو، دوی د پرېښتو خوراک وخوړ.» (مزامیر:۲۳/۷۸- تر ۲۵پورې)

د ایوب په کتاب کې هم د اسراییلو خدای یهوه سلطنت په آسمان کې بنودل شوی دی:«... خو زه بې ګناه یم او دعا مې بې ریا ده، اې ځمکې زما وینه پټه نه کړئ، پریږده چې زمان وینه زما لخوا د نیوکې غږ پورته کړي. **زه په آسمان کې شاهد لرم** چې له ما ملاتړ کوي.» (د ایوب کتاب:۱۷/۱۶تر۱۹پورې)
«یهوه ځواکمن او ډارووونکی دی او **سلطنت یې په آسمان کې ټینګ دی.»** (ایوب:۲/۲۵)

__**یهوه خدای په غره کې**__
په تېر لیکنو کې مو ولوستل چې یهوه موسی ته لومړی ځل **د سینا په غره کې** د اور په بڼه ورښکاره شو. (د هجرت کتاب: ۱/۳-۳)

د اسراییلو په دیني روایاتو کې د سینا یا د حوریب غر چې د خدای په غره هم مشهور دی، لیدل کیږي چې ځینې وختونه یهوه خدای د سینا په غره کې استوګن دی او نوموړي غره ته په اور، تکه او وریځ کې له آسمانه راکوزیږي او له موسی سره خبرې کوي. (هجرت: ۱۹/ ۱۶-۲۰)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

د سينا په غره کې د اسراييلو خدای يهوه، موسی ته هغه لس حکمونه ورکړل چې د يهوه لخوا د تيږو پر دوو تختو ليکل شوي وو، دغه لس فرمانونه د يهوه خدای او اسراييلو تر منځ تړون او ژمنې وې چې«هغه مهال يهوه خدای موسی ته وويل: **غره ته راپورته شه او زما پر لور راشه،** هلته اوسه چې زه هغه قوانين او حکمونه چې د تيږو پر تختو مې ليکلي دي تا ته درکړم.» (هجرت:۲۴/۱۲)

«موسی څلوېښت شپې ورځې **د يهوه خدای سره د غره په سر کې ؤ** چې په دې موده کې يې نه څه خوړلي او نه څښلي وو، په هغو ورځو کې يهوه خدای لس فرمانونه د تيږو پر دوو تختو وليکل. نو کله چې موسی د تيږو له دوو تختو سره **د سينا له غره راکوز شو،** نو له يهوه خدای سره د مخامخ خبرو کولو له امله يې مخ ځليده چې په‌خپله موسی له خپل ځليدونکي مخ څخه نه ؤ خبر.» (هجرت:۳۴/۲۸-۲۹-۳۰)

## يهوه خدای په خېمه کې

تر هغې چې د اسراييلو پاچا سليمان لخوا په اورشليم کې د يهوه خدای لپاره معبد نه ؤ جوړ شوی، يهوه په خېمه کې اوسيده او هغه د عبادت پر خېمه يادېده، هغه مهال چې داؤد غوښتل د يهوه لپاره ودانۍ جوړه کړي نو په «هغه شپه يهوه خدای ناتان [نومي نبي] ته وويل چې ولاړ شه زما خادم داؤد ته ووايه: ته نه شې کولی زما لپاره کور جوړ کړې، زه هېڅکله په يوه ودانۍ کې نه يم اوسيدلی، له هغې مودې راپدېخوا چې بني اسرايل مې له مصره رايستلي دي، **تر نن ورځې پورې زما کور يوه خېمه ده** او له يو ځايه بل ځای ته په حرکت کې يم.» (د سموييل دوېم کتاب:۴۷/۴تر۶پورې)

د يهوه له پورته څرګندونو ښکاري چې وړاندې له هغې چې اسرايل له مصر څخه راوځي يهوه په آسمان يا د سينا په غره کې اوسيده خو کله چې يهوه له اسراييلو سره يو ځای کيږي نو هغه له موسی غوښتنه کوي چې د ده لپاره د هغه له سپارښتنو او ښوونو سره سم يوه ځانګړې خېمه جوړه کړي:«بني اسرايل بايد زما لپاره **سپيڅلې خېمه** جوړه کړي، تر څو **د دوی په منځ کې اوسوګن شم،** د دغې خېمې او نورو ټولو اړينو توکو په اړه چې تا ته يې ښوونه کوم د هغې طرحې سره سم دې جوړه شي.» (هجرت:۲۵/۸-۹)

اسراييلو د يهوه د غوښتنې سره سم د هغه لپاره خېمه جوړه کړه او هغه صندوق چې په هغه کې د يهوه لس فرمانونه چې د تيږو پر دوو تختو ليکل شوي وو کېښودل شول او يهوه په‌خپله هم په‌کې ځای‌پرځای شو او له موسی سره يې پر هغو ديني مکلفيتونو خبرې وکړې چې د عبادت په خېمه کې تر سره کيدل، په ځانګړې توګه د دول، دول قربانيو په هکله چې له غوايي نيولې تر کټميرۍ (قمرۍ) او د کوترې تر بچيانو پورې ترسره کيدې:**«يهوه خدای د عبادت له خېمې له موسی سره خبرې وکړې** او هغه ته يې وويل چې لاندې حکمونو د اسراييلو قوم ته ورکړئ:
کله چې څوک د يهوه خدای لپاره قرباني ترسره کوي، نو د هغه د قربانۍ [څاروی] بايد غوايي، پسه او يا وز وي، که وغواړي يو غوايي د سوزول‌شوې قربانۍ په موخه قرباني کړي، نو هغه غوايي بايد نر او بې عيبه وي، غوايي دې د عبادت خېمې د ننوتلو درواز ته راولې، تر څو د يهوه خدای لخوا ومنل شي.» (د لاويانو کتاب:۲/۱-۳)
د يهوه خېمه دومره مهمه وه چې اسراييلو نه شول کولی په بل ځای کې قرباني تر سره کړي، که څوک په بل ځای کې د يهوه خدای لپاره قرباني هم وکړي، داسې وبولې لکه قتل چې کړي وي او بايد د اسراييلو له قوم څخه وشړل شي:«هر اسراييلي چې غوايي، پسه يا وزګړ، **پرته د عبادت له خېمې،** په بل ځای کې د خدای لپاره ذبحه کړي، وژنه او وينه يې بهولې ده او مجرم دی، نو بايد له خپل قوم څخه وشړل شي.» (لايان:۳/۱۷-۴)

اسراييلو د يهوه د عبادت له خېمې څخه سور اور جوړ کړی ؤ، د خېمې د سمبالښت: (د خېمې ټولول، له يو ځای بل ځای ته وړل، درول، پاکول او نورو چارو) لپاره يهوه خدای هارون، د هارون زامن او د لاويانو قبيله ګومارلې وه،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پرته له لاویانو او کاهنانو ښځه بل چا ته اجازه نه وه خېمې ته ننږدي شي، که بل څوک خمې ته لاس وروړي نو د یهوه لخوا مړه به شي.
خو ځینو اسراییلو د مرګ له وېرې همدې خېمې ته پنا هم وړه چې یوه بېلګه یې د سلیمان پاچا د پوځ قوماندان (یوآب) دی چې له سلیمان سره د مخالفت له امله له مرګ سره مخ ؤ خو سلیمان د یهوه د عبادت خېمې تقدس ته ونه کتل او هغه یې هلته وواژه:«کله چې یوآب ته د دغو پېښو خبر ورسید نو **د عبادت خېمې ته یې پنا یوړه** او د قربانځای سره نږدې کېناست... کله چې سلیمان پاچا خبر شو چې یوآب د عبادت په خېمه کې پنا اخیستې ده، بنایا نوی کس یې د هغه د وژلو په موخه ولېږه... نو بنایا د عبادت خېمې ته ننوت او یوآب یې وواژه.» (د پاچاهانو لومړی کتاب:۲/۲۸-۲۹-۳۴)
په پای کې یهوه خدای د خپل غوره کړي قوم اسراییلو د بتستیو او بې وفاییو له امله په قهر کېږي، له اسراییلو درومي او د عبادت خېمه په ځای پرېږدي، یهوه خدای **«د عبادت خېمه چې د شیلوې (شیلوه) په سیمه کې ولاړه وه پرېښوده** او سپېڅلی صندوق چې د اسراییلو په منځ کې د [یهوه خدای] د حضور نښه وه، دښمن ته په لاس ورکړ، پر خپل غوره کړای شوي قوم باندې په عضب شو او هغوی یې د دښمنانو توړو ته وسپارل.» (مزامیر:۷۸/۶۰تر ۶۲ پورې)




نېټه:۱۴۰۲/۹/۲۶ل. ل
**نور بیا**

د لیکوال آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ